


د مولانا سعيد افغاني :آزاده ، تولنيزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



# نجم الرحمن « مواج »

د نشر نېټه : 3 فبرورى 2019 م

# ټال کی

خيال زنګومه د ژوندون په ټال کی
ژوند زنګوی می د پرون په ټال کی
نن ستومانی می ده له ښړيو لوريو
زنګيږمه د اوښتون په ټال کی
خورو بڅرکو نه توپان جوړوم
بيايی زنګومه د بدلون په ټال کی
ملت می بولم د يوولی په لور
نه يې پرېږدمه د بيلتون په ټال کی
ياغی سوچونه به راښکيل کړم سره
وزنګوم به يې د قانون په ټال کی
شکل مينو ته بلنه می ده
چی وزنګيږی د مضمون په ټال کی
بيا هوډ او غړ شريکوو له سره
مواجه زانګو ده سمون په ټال کی
***
نجم الرحمن « مواج »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org